مور وویل: ته زمور بادار یې، هغه وفرمایل: «الله جل جلاله بادار دی»، مور وویل: په مور کې د فضیلت له اړخه تر ټولو غوره او د نفوذ له اړخه تر ټولو پیاوړی یې، هغه وفرمایل: «څه چې وایئ ووایئ، یا ځینې داسې ویناوې وکړئ، خو شیطان دې تاسې له حد څخه په اوږدلو دوکه نه کړي

له عبدالله بن الشخير رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې : زه د بنو عامر له پلاوي سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په لور روان شوم، مور وویل: ته زمور بادار یې، هغه وفرمایل: «الله جل جلاله بادار دی»، مور وویل: په مور کې د فضیلت له اړخه تر ټولو غوره او د نفوذ له اړخه تر ټولو پیاوړی یې، هغه وفرمایل: «څه چې وایئ ووایئ، یا ځینې داسې ویناوې وکړئ، خو شیطان دې تاسې له حد څخه په اوږدلو دوکه نه کړي».

[صحيح دی] [ابو داود او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته یوه ډله راغله، کله چې ور ورسېدل - نو د هغه ستاینه یې په - ځینو داسې الفاظو وکړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بد وګڼل، هغوی وویل: "ته زمور بادار یې"، نو رسول الله صلى الله عليه خپل مخلوق باندې بشپړ حاکمیت لري او دوی یې بندګان دي.وسلم ورته وویل: " الله جل جلاله بادار دی" هغه په هغوی وویل: "ته د فضیلت له اړخه په مور کې غوره یې" او په رتبه، عزت او امتیاز کې تر ټولو لوړ یې. او ته " د نفوذ له اړخه په مور کې ترټولو لوی یې" او ترټولو سخاوتمند، لوړ، او په مرتبه کې تر ټولو پورته یې. بیا ورته رسول الله صلى الله عليه وسلم لارښوونه وکړه چې هغه څه دې ووایی چې دوی یې معمولا وایی او په الفاظو کې دې له حد څخه نه اوړي او تکلف دې نه کوي، او شیطان دې دوی له حد څخه په اوږدلو سره دوکه نه کړي، کوم چې انسان په حرامو کې ښکېلوي لکه: شرک او د شرک حرام شوي سببونه دي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3389